## د افغـــــانستان اســــلامي امـــارت

**د ارشـــــاد، حج او اوقـــافو وزارت**

**د مساجدو د ارشاد او انسجام ریاست**

**د جمعې ورځې د خطابت موضوع او**

**لیکلی تقریر او بیان چې د هیواد دمرکز او ولایاتو**

**ټولو خطیبانو ته په دواړو ملي ژبو (پښتو او دري) کې لیږل کیږي.**

---

**١٦/ ذو القعدة الحرام /١۴۴۵ هـ، ق مطابق ۵/ جوزا /١۴٠٣هـ، ش**

# په امت باندې د رسول اللّٰه صلی اللّٰه علیه وسلم شفقت او دده علیه السلام شفاعت

الحمدلله الذي شرَّف مقام نبيه ورفع درجته، وخصَّه يوم القيامة بالشفاعة العظمى فهو الشافع المشفَّع، والصلاة والسلام على من عمَّ خيره ونفعه ، وعلى آله وأصحابه ومن اتبع سبيله ، أما بعد :

قال الله عز وجل : {وَمِنَ اللَّيْلِ فَتَهَجَّدْ بِهِ نَافِلَةً لَّكَ عَسَى أَن يَبْعَثَكَ رَبُّكَ مَقَامًا مَّحْمُودًا }الإسراء : ٧٩

وقال سبحانه وتعالى: {وَلَسَوْفَ يُعْطِيكَ رَبُّكَ فَتَرْضَى} الضحي : ۵

الله جل جلاله له سترو نعمتونو او رحمتونو څخه انسانانو ته د حضرت محمد مصطفی صلی الله علیه وسلم را لیږل دي .

د حضرت محمد مصطفی صلی الله علیه وسلم رسالت یواځې د انسانانو او بشر لپاره رحمت نه ؤ؛ بلکې دده وجود د ټولو انسانانو ، ژوندیو ساکښو لپاره رحمت دی. الله جل جلاله فرمایلي دي: {وَمَا أَرْسَلْنَاكَ إِلَّا رَحْمَةً لِلْعَالَمِينَ}.الأنبياء: ١٠٧

ترجمه:- او مونږ ته نه یې لیږلې مګر د عالمونو لپاره رحمت

عبدالله بن عباس رضي الله عنه ددې آیت په تفسیر کې وایې: الله تعالی خپل پیغمبر حضرت محمد صلی الله علیه وسلم د ټول عالَم لپاره رحمت را لیږلی دی، د مؤمن لپاره هم او د کافر لپاره هم ). تفسير الطبري ت شاكر (١٨ /۵۵٢)

همدا راز د رسول الله صلی الله علیه وسلم د جمالي او کمالي صفتونو څخه دا هم ؤ چې هغه په خپل امت باندې زیات شفقت درلود.

حضرت محمد صلی الله علیه وسلم پر خپل امت باندې دومره زیات شفقت او مهربانه ؤ چې بل هیڅا هغومره شفقت نه درلود.

همدا وجه وه چې رسول الله صلی الله علیه وسلم شپه او ورځ د خپل امت لپاره هلې ځلې کولی؛ ترڅو دده امت ددنیوي مشقتونو او تکلیفونو څخه وژغورل شي او په آخرت کې د جهنم له اور څخه نجات ومومي.

رسول الله صلی الله علیه وسلم د مور او پلار څخه هم زیات په خپل امت مشفق او مهربانه ؤ. په حدیث شریف کې راځي: عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ« إِنَّمَا أَنَا لَكُمْ مِثْلُ الْوَالِدِ أُعَلِّمُكُمْ...» مسند أحمد (١٢ /٣٧٢)

ترجمه:- د ابو هریره رضي الله عنه څخه روایت دی هغه وایې چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: بیشکه زه ستاسو لپاره په شان د پلار یم تاسو ته ښایم تاسوته (د ددین کارونه).

ملا على القاري رح ليكي:أَيْ: مَا أَنَا لَكُمْ إِلَّا مِثْلُ الْوَالِدِ فِي الشَّفَقَةِ لِوَلَدِهِ«أُعَلِّمُكم» أي: أمورَ دينَكم). مرقاة المفاتيح (١ /٣٨٠) يعنې نه يم زه ستاسو لپاره مگر په شان د پلار يم په شفقت کې په خپل بچې باندې. بنايم تاسو ته ستاسو ددين کارونه.

امام غزالي رحمه الله وايي چې د حضرت محمد صلى الله عليه وسلم شفقت او مهرباني په خپل امت باندې د مور او پلار له شفقت څخه هم زياته ؤ . المنقذ من الضلال ـ موافق للمطبوع (ص: ٦٩)

رسول اکرم صلى الله عليه وسلم خپل ټول عمر د خپل امت د بریالیتوب او کامیابۍ لپاره تیر کړ؛ چې دا حقیقت الله تعالی داسې بيان کړی دی: {لَقَدْ جَاءَكُمْ رَسُولٌ مِّنْ أَنفُسِكُمْ عَزِيزٌ عَلَيْهِ مَا عَنِتُّمْ حَرِيصٌ عَلَيْكُم بِالْمُؤْمِنِينَ رَءُوفٌ رَّحِيمٌ} التوبة: (١٢٨ )

ترجمه:- يقينًا يقينًا تاسو ته له هم ستاسو له جنسه نه رسول راغلی دی، هغه څه چې تاسو په تکليف کې اچوي؛ پر ده ډېر سخت (او درانه) دي، ستاسو (د هدايت) لپاره پر تاسو باندې ډېر حرصناك دی، په مومنانو باندې ډېر نرمي کوونکی، ډېر مهربان دی

الله تعالی په دې مبارک آيت کې د رسول الله صلى الله عليه وسلم درې ډوله صفتونه بيان کړي دی:

يو داچې ستاسو په مشقت، مصيبت او تکليف باندې خپه کيږي. دوهم داچې ستاسې په هدايت او دنيوي او اخروي نفع باندې زيات حريص دی، دريم داچې په تاسو بې حده شفقت والا او مهربانه دی.

په تفسير قرطبي کې راځي:(قال الحسين بن الفضل: لم يجمع الله لاحد من الانبياء اسمين من أسمائه إلا للنبي محمد صلى الله عليه وسلم، فإنه قال: " بالمؤمنين رءوف رحيم ). تفسير القرطبي (٨ /٣٠٢)

حسين بن فضل رحمه الله وايي چې الله تعالی دانبياوو څخه د هيڅ نبي لپاره خپل دوه نومونه نه دي جمع کړي ماسوا د محمد صلى الله عليه وسلم څخه، د ده په هکله وايي بالمؤمنين رؤف رحيم.

رسول اکرم صلى الله عليه وسلو په خپلو ټولو لارښوونو، هداياتو او احکامو کې ددې کوښښ کړی دی چې د هغه د امت څخه بدبختي، مشکلات، شخړې، بد بيني لرې شي او په آسانی، خوشحالی او رفاه کې ژوند وکړي او د هر ډول دنيوي او اخروي عذابونو څخه خلاصی ومومي. په حديث شريف کې راځي: عَنْ أَبِى هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ -صلى الله عليه وسلم- « إِنَّمَا مَثَلِى وَمَثَلُ أُمَّتِى كَمَثَلِ رَجُلٍ اسْتَوْقَدَ نَارًا فَجَعَلَتِ الدَّوَابُّ وَالْفَرَاشُ يَقَعْنَ فِيهِ فَأَنَا آخِذٌ بِحُجَزِكُمْ وَأَنْتُمْ تَقَحَّمُونَ فِيهِ ». صحيح مسلم (٧ /٦٣)

ترجمه:- د ابو هريره رضي الله عنه څخه روايت دی هغه وايي چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي: بيشکه زما مثال او زما د امت مثال په شان د هغه سړي دی چې اور بل کړي؛ نو حشرات او الوتونکي شروع وکړي او په هغه اور کې لويږي ؛ نو زه تاسو لره رانيسم د ملاګانو څخه(ترڅو له اور څخه مو بچ کړم) او تاسو ځانونه اچوی په اور کې.

د رسول الله صلى الله عليه وسلم په خپل امت باندې د شفقت او مهربانی څو نمونې:

١- رسول الله صلى الله عليه وسلم په خپل امت باندې دومره زيات مشفق او مهربانه ؤ چې کله نبي عليه السلام د نورو پيغمبرانو حالات د خپلو امتونو په اړه په قرآن کريم کې ولوستل؛ نو د خپل امت په غم کې شو او ډير يې وژړل او الله تعالی ته يې د قيامت د عذاب څخه د خلاصون لپاره خپل امت په اړه سوالونه شروع کړل چې بالآخره الله جل جلاله جبرائيل عليه السلام دده د تسليې لپاره راو ليږه او ورته يې وويل چې مونږ به تا د امت په وجه خپه نکړو. په حديث شريف کې راځي: عَنْ عَبْدِ اللهِ بْنِ عَمْرِو بْنِ الْعَاصِ، أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: تَلَا قَوْلَ اللهِ

عَزَّ وَجَلَّ فِي إِبْرَاهِيمَ: {رَبِّ إِنَّهُنَّ أَضْـلَلْنَ كَثِيرًا مِنَ النَّاسِ فَمَنْ تَبِعَنِي فَإِنَّهُ مِنِّي} [إبراهيم: ٣٦] الْآيَةَ، وَقَالَ عِيسَى عَلَيْهِ السَّلَامُ: {إِنْ تُعَذِّبْهُمْ فَإِنَّهُمْ عِبَادُكَ وَإِنْ تَغْفِرْ لَهُمْ فَإِنَّكَ أَنْتَ الْعَزِيزُ الْحَكِيمُ} [المائدة: ١١٨]، فَرَفَعَ يَدَيْهِ وَقَالَ: «اللهُمَّ أُمَّتِي أُمَّتِي»، وَبَكَى، فَقَالَ اللهُ عَزَّ وَجَلَّ: «يَا جِبْرِيلُ اذْهَبْ إِلَى مُحَمَّدٍ، وَرَبُّكَ أَعْلَمُ، فَسَـلْهُ مَا يُبْكِيكَ؟» فَأَتَاهُ جِبْرِيلُ عَلَيْهِ الصَّلَاةُ وَالسَّلَامُ، فَسَأَلَهُ فَأَخْبَرَهُ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ بِمَا قَالَ، وَهُوَ أَعْلَمُ، فَقَالَ اللهُ: « يَا جِبْرِيلُ، اذْهَبْ إِلَى مُحَمَّدٍ، فَقُلْ: إِنَّا سَنُرْضِيكَ فِي أُمَّتِكَ، وَلَا نَسُوءُكَ» صحيح مسلم (١ /١٩١)، السنن الكبرى للنسائي (١٠ /١٤٠)

ترجمه:- د عبدالله بن عمرو بن العاص رضي الله عنه څخه روايت دی هغه وايي چې نبي عليه السلام د الله تعالی قول د ابراهيم عليه السلام په اړه ولوستلو چې د خپل امت په باره کې به په قيامت کې وايي: {رَبِّ إِنَّهُنَّ أَضْـلَلْنَ كَثِيرًا مِنَ النَّـاسِ فَمَنْ تَبِعَنِي فَـإِنَّهُ مِنِّي} [إبراهيم: ٣٦] ترجمه: ای زما ربه! بېشـکه دغو (بتانو) په خلقو کې ډېر زيات گمراه کړي دي، نو چا چې زما پيروي وکړه هغه زما امتي دی.

او د عيسی عليه السلام داوينا يې د خپل قوم په باره کې ولوستله:{إِنْ تُعَذِّبْهُمْ فَإِنَّهُمْ عِبَادُكَ وَإِنْ تَغْفِرْ لَهُمْ فَإِنَّكَ أَنْتَ الْعَزِيزُ الْحَكِيمُ} [المائدة: ١١٨] ترجمه: که چېرې ته دوی ته عذاب ورکوې، نو يقينًا دوی سـتا بنده ګان دي او که چېرې ته دوی ته بخښنه کوې، نو بېشکه هم ته ډېر غالب، ښه حکمت والا يې

نو خپل دواړه لاسونه يې پورته کړل او وه يې فرمايل: «اللهُمَّ أُمَّتِي أُمَّتِي» ای الله ! زما امت ته ببښنه وکړه ، ای الله! زما امت ته بښنه وکړه او وه يې ژړل. نو الله تعالی وفرمايل: ای جبرائيله! لاړه شه حضرت محمد صلی الله عليه وسلم ته او ستا رب په هرڅه ښه عالم دی او پوښتنه ورڅخه وکړه چې څه شی تا ژړوي؟ جبرائيل عليه السلام نبي کريم صلی الله عليه وسلم ته راغی او ورڅخه يې پوښتنه وکړه. نبي کريم صلی الله عليه وسلم ورته د هغه څه په بـاره کې معلومات ورکړل چې هغه ويلی ؤ (چې هغه د خپل امت په باره کې د عذاب ويره وه) حال داچې الله تعالی په هرڅه ښـه عالم دی.بيا الله تعالی وويل: ای جبرائيله! لاړ شـه محمد -صلی الله عليه وسـلم- ته او ورته ووايه: بيشکه مونږ به تا ژر راضي او خوشحاله کړو ستا د امت په هکله او غمژن به دې نکړو.

امام نووي رحمه الله ددې حديث په آخر کې وايي:(بَيَانُ كَمَالِ شَفَقَةِ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَى أُمَّتِهِ وَاعْتِنَائِهِ بِمَصَالِحِهِمْ وَاهْتِمَامِهِ بِأَمْرِهِمْ). شرح النووي (٣ /٧٨)

په دې حديث کې بيان د کمال شفقت دی د رسول الله صلی الله عليه وسلم په خپل امت باندې ددوی د مصالحو په باره کې اوحضرت محمد صلی الله عليه وسلم د توجه او اهتمام بيان دی ددوی د کارونو په اړه.

٢- رسول الله صلی الله عليه وسلم په خپل امت دومره زيات شفقت او مهرباني درلودله چې کله الله تعالی د معراج په شپه د هغه په امت باندې په شپه او ورځ کې پنځوس لمونځونه فرض کړل؛ نو نبي کريم صلی الله عليه وسلم څو ځله د الله تعالی دربارته رجوع وکړه او د الله جل جلاله څخه يې وغوښـتل چې زما امت ددومره زياتو لمونځونو توان نلري دا اندازه ورڅخه کم کړه.

د معراج واقعه چې په يو يو طولاني حديث کې ذکر شوې ده، د هغې په يو مختصر روايت کې راځي: عن أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ:« فَفَرَضَ اللَّهُ عَزَّ وَجَلَّ عَلَى أُمَّتِي خَمْسِينَ صَلَاةً فَرَجَعْتُ بِذَلِكَ حَتَّى مَرَرْتُ عَلَى مُوسَـى فَقَالَ مَا فَرَضَ اللَّهُ لَكَ عَلَى أُمَّتِكَ قُلْتُ فَرَضَ خَمْسِـينَ صَـلَاةً قَالَ فَارْجِعْ إِلَى رَبِّكَ فَإِنَّ أُمَّتَكَ لَا تُطِيقُ ذَلِكَ فَرَاجَعْتُ فَوَضَعَ شَطْرَهَا فَرَجَعْتُ إِلَى مُوسَى قُلْتُ وَضَعَ شَطْرَهَا فَقَالَ رَاجِعْ رَبَّكَ فَإِنَّ أُمَّتَكَ لَا تُطِيقُ فَرَاجَعْتُ فَوَضَعَ شَطْرَهَا فَرَجَعْتُ إِلَيْهِ فَقَالَ ارْجِعْ إِلَى رَبِّكَ فَإِنَّ أُمَّتَكَ لَا تُطِيقُ ذَلِكَ فَرَاجَعْتُهُ فَقَالَ هِيَ خَمْسٌ وَهِيَ خَمْسُونَ». صحيح البخاري (١ /٣٦٠)

ترجمه:- د انس بن مالک رضي الله عنه څخه روایت دی چې نبي علیه السلام وفرمایل: پس فرض کړل الله تعالی زما پر امت پنځوس لمونځونه نو زه ددې لمونځونو سره راوګرځیدم آن تر دې چې موسی -علیه السلام- باندې تیریدم ،موسی علیه السلام راته وویل: څه فرض کړل الله تعالی ستا پر امت؟ ما وویل: پنځوس لمونځونه. هغه راته وویل: واپس خپل رب ته رجوع وکړه ستا امت توان نلري ددومره لمونځونو، نو ما الله تعالی ته رجوع وکړه(ترڅو د لمونځونو شمیره راته کم کړي) نو پنځه لمونځونه یې راڅخه کم کړل، بیا موسی علیه السلام ته راوګرځیدم ومې ویل: الله تعالی پنځه لمونځونه کم کړل. موسی علیه السلام وویل: مراجعه وکړه خپل رب ته ستا امت توان نلري (ددومره لمونځونو) نو الله تعالی ته مې بیا رجوع وکړه؛ نو الله تعالی راڅخه پنځه لمونځونه کم کړل بیا موسی علیه السلام ته راغلم نو موسی علیه السلام راته وویل: خپل رب ته رجوع وکړه ستا امت توان ددومره لمونځونو نلري ، نو بیا مې الله تبارک وتعالی ته رجوع وکړه الله جل جلاله وفرمایل: دا پنځه لمونځونه دي چې په حقیقت کې د پنځوسو لمونځونو ثواب لري.

دا حدیث شریف مختصر دی چې په دی کې نبي علیه السلام دری ځله الله تعالی ته مراجعه کړی ده خو په تفصیلي حدیث کې راځي چې نبي علیه السلام څو څو ځله الله تعالی د لمونځونو دکمولو په باره کې رجوع کړی ده چې دا د رسول الله صلی الله علیه وسلم په خپل امت باندې دشفقت او مهربانی دلیل دی.

**٣-** رسول الله صلی الله علیه وسلم په خپل امت دومره شفقت درلود چې په لمانځه کې به یې هم خپل امت ته دعاء کوله.

په حدیث شریف کې راځي:عَنْ عَائِشَةَ، أَنَّهَا قَالَتْ: لَمَّا رَأَيْتُ مِنَ النَّبِيِّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ طِيبَ نَفْسٍ، قُلْتُ: يَا رَسُولَ اللَّهِ، ادْعُ اللَّهَ لِي، فَقَالَ: «اللَّهُمَّ اغْفِرْ لِعَائِشَةَ مَا تَقَدَّمَ مِنْ ذَنْبِهَا وَمَا تَأَخَّرَ، مَا أَسَرَّتْ وَمَا أَعْلَنَتْ»، فَضَحِكَتْ عَائِشَةُ حَتَّى سَقَطَ رَأْسُهَا فِي حِجْرِهَا مِنَ الضَّحِكِ، قَالَ لَهَا رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «أَيَسُرُّكِ دُعَائِي؟ »، فَقَالَتْ: وَمَا لِي لَا يَسُرُّنِي دُعَاؤُكَ فَقَالَ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: «وَاللَّهِ إِنَّهَا لَدُعَائِي لِأُمَّتِي فِي كُلِّ صَلَاةٍ». صحيح ابن حبان - مخرجا (١٦ /٤٧)

ترجمه:- د حضرت عائشې رضي الله عنها څخه روایت دی ، هغه وایې هرکله چې ما د نبي علیه السلام خوشحاله حالت ولیده. ومې ویل: ای دالله رسوله! ماته د الله تعالی څخه دعاء وغواړه. نبي علیه السلام وفرمایل: ای الله ! عائشې ته ببښنه وکړه هغه مخکني ګناهونه د هغې او د هغې وروستني ګناهونه، هغه چې پټ یې کړي او هغه چې ښکاره یې کړي دي. نو عائشې رضی الله عنها وخندل تر دې پورې چې ولویده سر دهغې د هغې په غیږه کې د ډیرې خندا له امله؛ نو نبي علیه السلام ورته وفرمایل: آیا تاخوشحالوي زما دعاء؟ عائشې رضي الله عنها وویل: او ولې به مې نه خوشحالوي دعاء ستا. بیا پیغمبر علیه السلام وفرمایل: قسم په الله چې همدا زما دعاء ده زما د امت لپاره په هر لمانځه کې.

**٤-** په اسلامي شریعت کې زیات داسې حکمونه دي چې نبي علیه السلام په خپل امت د شفقت له امله نه دي لازم کړي؛لکه د هر لمانځه پر وخت دمسواک استعمال،د ماخوستن د لمانځه وروسته کول د شپې دریمې حصې ته، په دومداره توګه ترشهادت پورې جهادکول او داسې نور.

په یو حدیث شریف کې راځي نبي علیه السلام فرمایلي دي: عن أَبِي هُرَيْرَةَ عَنِ النَّبِيِّ صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قال.... «وَلَوْلَا أَنْ أَشُقَّ عَلَى أُمَّتِي مَا قَعَدْتُ خَلْفَ سَرِيَّةٍ، وَلَوَدِدْتُ أَنِّي أُقْتَلُ فِي سَبِيلِ اللهِ ثُمَّ أُحْيَا، ثُمَّ أُقْتَلُ ثُمَّ أُحْيَا، ثُمَّ أُقْتَلُ». صحيح البخاري (١ /١٦)

ترجمه:- د ابوهريره رضـي الله عنه څخه روايت دی چې رسـول الله صـلی الله عليه وسـلم وفرمايل:... که چيرې ددې ويره نه وای چې زه به مشقت راولم په خپل امت باندې نو زه به د یوې سريې څخه نه وی ناست، زه دا خوښه ګڼم چې د الله په لاره کې شهيد شم او بيا ژوندی شم، بيا شهيد شم او بيا ژوندی شم او بيا شهيد شم.

په يو بل حديث شريف کې راځي: عَنْ زَيْدِ بْنِ خَالِدٍ الْجُهَنِيِّ، قَالَ: سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ، يَقُولُ: «لَوْلَا أَنْ أَشُقَّ عَلَى أُمَّتِي لَأَمَرْتُهُمْ بِالسِّوَاكِ عِنْدَ كُلِّ صَلَاةٍ، وَلَأَخَّرْتُ صَلَاةَ الْعِشَاءِ إِلَى ثُلُثِ اللَّيْلِ». سنن الترمذي ت شاكر (١ /٣٥)

ترجمه:- د زيد بن خالد جهني رضي الله عنه څخه روايت دی هغه وايې چې ما د رسول الله صلی الله عليه وسلم څخه اوريدلي دي چې وه يې فرمايل: که چيرې ددې ويره نه  وای چې زه به مشقت را ولم  په خپل امت باندې ، نو ما به امر کړی ؤ دوی ته په استعمال د مسـواک د هرلمانځه پر وخت او خامخا ما به وروسـته کړی ؤ ماخوسـتن لمونځ د شپې دريمې برخې ته.

**٥-** رسول الله صلی الله د خپل امت پر کوچنيانو هم شفقت درلود، آن چې د ماشومانو او اطفالو د ژړا په وجه به يې په لمانځه کې تخفيف راوستلو. په حديث شريف کې راځي:عَنْ عَبْدِ اللَّهِ بْنِ أَبِى قَتَادَةَ عَنْ أَبِيهِ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ -صلی الله عليه وسلم- « إِنِّى لأَقُومُ إِلَى الصَّلاَةِ وَأَنَا أُرِيدُ أَنْ أُطَوِّلَ فِيهَا فَأَسْمَعُ بُكَاءَ الصَّبِىِّ فَأَتَجَوَّزُ كَرَاهِيَةَ أَنْ أَشُقَّ عَلَى أُمِّهِ ». سنن أبى داود-ن (١ /٢٨٩)

ترجمه:- عبدالله بن ابی قتاده د خپل پلاره قتاده رضـي الله څخه روايت کوي هغه وايې چې رسـول الله صـلی الله عليه وسـلم وفرمايل: بيشـکه زه لمانځه ته پاڅيږم او زه غواړم چې اوږوالی په لمانځه کې راولم ، بيا زه چې واورم ژړا د ماشوم (طفل) نو اختصار راولم (په قراءت کې) ددې ويری نه چې په مشقت کې به واچوم مور د ماشوم.
لکه چې په بل روايت کې د (کراهية) په عوض (مخافة) کلمه راغلی ده.

امام ابن الجوزي وايي: دا حديث د رسـول الله صـلی الله عليه وسـلم په شـفقت او مهربانۍ په خپل امت باندې دلالت کوي.کشف المشکل من حديث الصحيحين (ص: ٤٠٧)

**٦-** د رسول الله صلی الله عليه وسلم د خپل امت او نورو امتونو لپاره شفاعت:
لکه مخکې مو چې وويل رسول الله صـلی الله عليه وسلم د ټولو مخلوقاتو لپاره په عمومي توګه او د انسانانو لپاره په ځانګړې توګه رحمت او نعمت دی؛ بناءً رسـول الله صلی الله عليه وسلم به د قيامت په ورځ د ټولو انسانانولپاره شفاعت کوي.
رسـول الله صـلی الله عليه وسـلم به د قيامت په ورځ دوه ډوله شـفاعت کوي چې يو ته شـفاعت کبری يا لوی شـفاعت ويل کيږي چې دا شـفاعت به د ټولو امتونو لپاره وي. او بل ته شـفاعت صـغری يا وړوکی شـفاعت ويل کيږي چې دا ډول شفاعت به د خپل امتيانو لپاره کوي.

**لومړی: شفاعت کبری (لوی شفاعت):**

شـفاعت کبری هغه شـفاعت دی چې رسـول الله صلی الله عليه وسلم به يې د ټولو امتونو لپاره د محشر په موقف کې کوي ترڅو ددوی سره حساب او کتاب شروع شي او دې شفاعت ته په رواياتو کې (شفاعت مقام محمود) هم ويل شوی چې دا خصوصيت او فضيلت يواځې رسول الله صلی الله عليه وسلم ته حاصل دی. لکه چې په صحيحو احاديثو کې راځي چې نور پيغمبران او رسـولان به ددې ډول شـفاعت د نه کولو په اړه خپل خپل معذرتونه وړاندې کړي.  په يو حديث کې راځی: عَنْ أَبِي سَعِيدٍ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: (أَنَا سَيِّدُ وَلَدِ آدَمَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ وَلَا فَخْرَ، وَبِيَدِي لِوَاءُ الحَمْدِ وَلَا فَخْرَ، وَمَا مِنْ نَبِيٍّ يَوْمَئِذٍ آدَمَ فَمَنْ سِوَاهُ إِلَّا تَحْتَ لِوَائِي، وَأَنَا أَوَّلُ مَنْ تَنْشَقُّ

عَنْهُ الأَرْضُ وَلاَ فَخْرَ، قَالَ: فَيَفْزَعُ النَّاسُ ثَلاَثَ فَزَعَاتٍ، فَيَأْتُونَ آدَمَ، فَيَقُولُونَ: أَنْتَ أَبُونَا آدَمُ فَاشْفَعْ لَنَا إِلَى رَبِّكَ، فَيَقُولُ: إِنِّي أَذْنَبْتُ ذَنْبًا أُهْبِطْتُ مِنْهُ إِلَى الأَرْضِ وَلَكِنْ ائْتُوا نُوحًا، فَيَأْتُونَ نُوحًا، فَيَقُولُ: إِنِّي دَعَوْتُ عَلَى أَهْلِ الأَرْضِ دَعْوَةً فَأُهْلِكُوا، وَلَكِنْ اذْهَبُوا إِلَى إِبْرَاهِيمَ، فَيَأْتُونَ إِبْرَاهِيمَ فَيَقُولُ: إِنِّي كَذَبْتُ ثَلاَثَ كَذِبَاتٍ، ثُمَّ قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: مَا مِنْهَا كَذِبَةٌ إِلاَّ مَا حَلَّ بِهَا عَنْ دِينِ اللَّهِ. وَلَكِنْ ائْتُوا مُوسَى، فَيَأْتُونَ مُوسَى، فَيَقُولُ: إِنِّي قَدْ قَتَلْتُ نَفْسًا، وَلَكِنْ ائْتُوا عِيسَى، فَيَأْتُونَ عِيسَى، فَيَقُولُ: إِنِّي عُبِدْتُ مِنْ دُونِ اللَّهِ، وَلَكِنْ ائْتُوا مُحَمَّدًا ، قَالَ: فَيَأْتُونَنِي فَأَنْطَلِقُ مَعَهُمْ - قَالَ ابْنُ جُدْعَانَ: قَالَ أَنَسٌ: فَكَأَنِّي أَنْظُرُ إِلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ - قَالَ: فَآخُذُ بِحَلْقَةِ بَابِ الجَنَّةِ فَأُقَعْقِعُهَا فَيُقَالُ: مَنْ هَذَا؟ فَيُقَالُ: مُحَمَّدٌ فَيَفْتَحُونَ لِي، وَيُرَحِّبُونَ بِي، فَيَقُولُونَ: مَرْحَبًا، فَأَخِرُّ سَاجِدًا، فَيُلْهِمُنِي اللَّهُ مِنَ الثَّنَاءِ وَالحَمْدِ، فَيُقَالُ لِي: ارْفَعْ رَأْسَكَ وَسَلْ تُعْطَ، وَاشْفَعْ تُشَفَّعْ، وَقُلْ يُسْمَعْ لِقَوْلِكَ، وَهُوَ المَقَامُ المَحْمُودُ الَّذِي قَالَ اللَّهُ {عَسَى أَنْ يَبْعَثَكَ رَبُّكَ مَقَامًا مَحْمُودًا} [الإسراء: ٧٩] سنن الترمذي ت شاكر (٥ /٣٠٩)

ترجمه:- رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي زه به د قيامت په ورځ د آدم عليه السلام د اولاد سردار يم او زه په دې باندې هيڅ فخر نه کوم او زما په لاس کې به د حمد او ثنا بيرغ وي او زه په دې باندې هيڅ فخر نه کوم او په دغه ورځ به آدم عليه السلام او د هغه نه علاوه چې څومره انبياء دي ټول به زما دبيرغ لاندې وي او زه په دې باندې هيڅ فخر نه کوم او د قيامت په ورځ به اول ځمکه زما د خوانه وشلولی شي او زه په دې باندې هيڅ فخر نه کوم او بيايې وفرمايل: چې دغه وخت کې به په خلکو درې ويرې تيرې شي او بعضې کسان به ووايې چې راځئ چې آدم عليه السلام ته ورشو نو ټول به آدم عليه السلام ته ورشي ورته وبه وايې ته ابو البشر يعنی د ټولو بنی آدمو پلار يې الله تعالی ته زمونږ شفاعت وکړه هغه به ورته ووايې زه يې د يو بوټي نه منع کړی وم ما نافرماني وکړه او د هغې په سبب زه ځمکې ته راکوز کړی شوی وم، تاسو نوح عليه السلام ته لاړشئ هغوی به نوح عليه السلام ته ورشي هغه به ورته ووايې: ما خپل قوم ته خيرې وکړې چې تباه شول، تاسو ابراهيم عليه السلام ته ورشئ ، هغوی به ابراهيم عليه السلام ته ورشي ، هغه به ورته ووايې: ما درې ځله دروغ ويلي دي، بيا رسول الله وفرمايل: هغه کوم حقيقي دروغ نه ؤ؛ بلکې دالله تعالى ددين حمايت کول يې مقصود ؤ؛ البته تاسو موسى عليه السلام ته ورشئ ، خلک به موسى عليه السلام ته ورشي هغه به ورته ووايې: ما يو داسې بنده قتل کړی دی چې د هغه د قتل کولو حکم راته نه ؤ شوی، تاسو عيسى عليه السلام ته لاړشئ ، خلک به عيسى عليه السلام ته ورشي، هغه به ورته ووايې، زما خو دالله تعالى نه علاوه بندګي شوی وه تاسو محمدرسول الله صلى الله عليه وسلم ته ورشئ . په يو روايت کې دي خلک به ماته راشي او زه به ورسره روان شم. ابن جدعان راوي وايې چې انس رضي الله عنه وويل: ماته داسې ښکاري لکه چې اوس هم زه رسول الله صلى الله عليه وسلم ته ګورم بيايې وفرمايل:زه به دجنت د دروازې ځنځير ونيسم او وبه يې کړنګوم آواز به وشي چې څوک دی؟ په جواب کې به ورته وويل شي . محمدصلى الله عليه وسلم دی.

نو ماته به دروازه پرانيستلی شي او پخير راغلی به راته وويلی شی نو زه به په سجده پريوزم او الله تعالی به ماته په زړه کې د حمد ويلو طريقه واچوي کوم چې ددينه مخکې هيچاته نه ده ښودل شوی، بيا به راته حکم وشي ای رسول الله صلى الله عليه وسلم سره پورته کړه غواړه چې څه غواړئ در کولی به شي او شفاعت وکړه منلی به شي او دا به هغه مقام محمود وي دکوم باره کې چې الله تعالى فرمايلي دي:{عَسَى أَنْ يَبْعَثَكَ رَبُّكَ مَقَامًا مَحْمُودًا}.

په يو بل روايت کې راځي: عن ابن عمر رضي الله عنهما قال : « إنَّ النَّاسَ يصِيرُونَ يومَ القِيامَةِ جُثاً، كُلُّ أُمَّةٍ تَتبَعُ نَبِيهَا يقُولُونَ : يافُلَانُ ! اشفَع يافُلانُ ! اشفَع حتى تَنتَهِي الشَّفَاعَةُ الى النَّبِي صلى الله عليه وسلم فَذلِکَ يومَ يبعَثُهُ اللهُ المَقَامَ المَحمُودَ » . رواه البخاري

ترجمه:- له عبدالله بن عمر رضـــي الله عنهما څخه روایت دی وایي: د قیامت په ورځ به خلک د جثو په څیر وي، هر امت به په خپل پیغمبر پســـې روان وي، وایي به ای فلانیه زموږ لپاره ســـپارښـــت وکړه ای فلانیه زموږ لپاره سپارښت وکړه، ترڅو چې سپارښتنه په محمد صلی الله علیه وسلم باندې ختمه شي او دا ورځ به هماغه ورځ وي چې الله تعالی به دی په مقام محمود باندې مبعوث کړي .

**دوهم : شفاعت صغری (وړکی شفاعت):**

رسـول الله صلی الله علیه وسلم په خپل امت باندې د زیات شفقت درلودلو له امله ددوی لپاره به د قیامت په ورځ شفاعت کوي.

رسول الله صلی الله علیه وسلم به د قیامت په ورځ ټول شپږ قسمه شفاعتونه کوي چې تفصیل یې په لاندې ډول دی:

۱- شفاعت کبری چې مخکې یې ذکر تیر شو.

۲- دا ډول شــفـاعـت به رســول الله صــلی الله علیه وســلم د هغو خلکو لپاره کوي چې حســنات( نیکیانې) او سیئات(بدیانې) دواړه یې برابر وي؛ نو نبي علیه السلام به ددوی لپاره شفاعت کوي چې جنت ته داخل شي.

۳- د اډول شـفاعت به رسـول الله صـلی الله علیه وسلم د هغو خلکو لپاره کوي چې دهغوی په هلکه امر شوی وي چې جهنم ته دې داخل کړل شي، نو رسـول الله صـلی الله علیه وسـلم به یې شـفاعت وکړي چې جهنم ته داخل نشي او جنت دې داخل شي.

په یو روایت کې راځي: عن عمران بن حصـین رضـي الله عنه، عن النبي صـلی الله علیه وسلم قال : «يخرُجُ قَومٌ مِنَ النَّارِ بِشَفَاعَةِ مُحَمَّدٍ صلی الله علیه وسلم، فَيدخُلُونَ الجَنَّةَ يسَمُّونَ الجَهَنَّمِيين» . صحيح البخاري ت (١٦ /٤١١)

ترجمه:- له عمران بن حصـــین رضـــي الله عنه څخه روایت دی هغه وایي چې نبي کریم صـــلی الله علیه وســـلم وفرمایل: یوه ډله خلک به د پیغمبر صـلی الله علیه وسـلم په شـفاعت له دوزخ څخه راووځي او جنت ته به داخل شي، هغوته به دوزخیان ویل کیږي .

۴- دا ډول شفاعت به رسول الله صلی الله علیه وسلم دهغو نیکانو جنتیانو د درجاتو د لوړوالي لپاره کوي چې اعمال یې د زیات ثواب مستحق وي.

۵- دا ډول شفاعت به رسول الله صلی الله علیه وسلم د ځینو خاصو خلکو په باره کوې چې جنت ته دې بې حسابه داخل کړل شي لکه حدیث عکاشه بن محصن کې چې راځي.نبي علیه السلام ورته داسې دعاء وکړه چې الله تعالی دې عکاشه دهغو اویازره خلکو کې حساب کړي چې پرته له حسابه جنت ته داخلیږي.

٦- دا ډول شـفاعت ددې لپاره دی چې د ځینې کافرانو په عذاب کې تخفیف رامنځ ته شي. لکه د رسول الله صلی الله علیه وسلم شفاعت د خپل تره ابو طالب په حق کې. په یو روایت کې راځي: عن العباس بن عبدالمطلب رضي الله عنه : أنه قال للنبي صـلی الله علیه وسـلم: « مَا أغنَيتَ عَن عَمِّكَ؛ فَإِنَّهُ كَانَ يحُوطُكَ وَيغضَبُ لَكَ ؟ قَالَ : هُوَ فِي ضَحضَاحٍ مِن نَارٍ، وَلَولاَ أَنَا لَكَان فِي الدَّركِ الأسفَلِ مِنَ النَّار» . متفق علیه

ترجمه:- له حضـرت عباس بن عبدالمطلب رضـي الله عنه څخه روایت دی چې ده نبي کریم صلی الله علیه وسلم ته وویل ته خپل کاکا ته ګټه رسـولی شـې، هغه د تا سـرپرسـتي او پالنه کوله او له تا څخه یې دفاع کوله ؟ ویې فرمایل: هغه د اور په ضـحضـاح ځای کې دی، که زما سپارښتنه نه وای، نو ارومرو به هغه د اور په ژوره کنده کې وای. شرح الطحاوية لأبي العز الحنفي ٦٧/٢-٦٨